# نیکمرغه کورنی
# او د میړه او میرمني اختلاف

د

البیت السعید وخلاف الزوجین

د کتاب ژباړه


**لیکوال:**

**دکتور صالح بن عبدالله بن حمید**

**ژباړن:**

**عبدالمالک «همت»**

**د کتاب نوم:** نیکمرغه کورنی او د میړه او میرمني اختلاف

**د کتاب فارسي نوم:** خانواده خوشبخت و اختلاف زوجین

**اسم الکتاب بالعربیة:** البیت السعید وخلاف الزوجین

**لیکوال:** دکتور صالح بن عبدالله بن حمید

**ژباړن:** عبدالمالک «همت»

**موضوع:** کورني اخلاق

**د چاپ شمیر:** لومړي (دیجیتال)

**د چاپ تاریخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچینه:**

**دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برېښنا لیک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

www.mowahedin.com | www.aqeedeh.com

www.videofarsi.com | www.islamtxt.com

www.zekr.tv | www.shabnam.cc

www.mowahed.com | www.sadaislam.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیکلړ

**لیکلړ ........................................................ أ**

**د ژباړه خبري........................................................ ۱**

**لومړی رساله: نیکمرغه ........................................... ۴**

سریزه ........................................................ ٤

د کورنۍ د جوړېدو ارزښت او د مېړه او مېرمني په ژوند کي الفت او محبت ........................................ ٥

د یوې مسلماني کورنۍ د جوړېدو بنسټونه........................ ۷

۱- پر لوی څښتن ﷻ ایمان او له هغه څخه بېره (تقوا): ...........۷

۲- ښه او نېکمرغه ژوند:..........................................۹

د کورني ژوندانه په خوندیتوب کي د مېړه ونډه او غوره ژوند .. ۹

دکورني ژوندانه په خوندیتوب کي دمېرمني ونډه او غوره ژوند ۱۳

پاییزه........................................................ ۱۵

**دوهمه رساله: د مېړه او مېرمني اختلاف..........................۱۸**

سریزه ........................................................ ۱۸

د مېړه او مېرمني د اختلاف لاملونه ............................ ۱۹

د مېړه او مېرمني د اختلاف د اوارۍ لاري...................... ۲۲

د مېړه او مېرمني د اختلاف د اوارۍ وروستۍ لار ............ ۲۷

**د ژباړن لنډه پېژندنه ........................................... ۳۰**

# مبارک پیل

قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنْ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنْ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا». رواه الإمام مسلم

ژباړه:

رسول الله ﷺ فرمايي:

«څوک چې هدايت (سمې لارې) ته بلنه وکړي د هغو ټولو خلکو ثواب ورکول کيږي چې پر دغه هدايت تلنه او کړنه کوي او د هغو له ثوابه هم څه نه کميږي. او څوک چې ګمراهۍ ته بلنه وکړي، د هغو ټولو خلکو ګناه چې عمل په کوي پرده ليکل کيږي او د عمل کوونکو له ګنهونو څخه هم څه نه کميږي».

# د ژباړه خبرې

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على محمد سيد المرسلين وعلى آله وصحبه وأزواجه أمهات المؤمنين وبعد:

ډېرو درنو او عزتمنو وروڼو او خوندو!

له ډېره مهاله مې په زړه کې وه چې د يوې ښکلې مسلماني کورنۍ د جوړېدو او د مسلمانو مېړه او مېرمنې د اړيکو، په تېره د مسلمانو ښځو د کالو او ورځو اخيستلو او ځان جوړولو په هکله او په دې اړه د حل او حرمت په باب زموږ د سپېڅلي دين او ښکلي غرا شريعت احکام را غونډ او د يوه کتاب په بڼه يې تاسي ته د يوې ډالۍ په توګه وړاندي کړم. خو باور وکړئ چې زما بوختياوي، البته د ليکنو او ژباړې په برخه کې دونې زياتي وې چې زه يې دې کار ته نه پرېښوولم. په دې ترڅ کې صرف مادوني وکولای سول چې زما د يوه کتاب «زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي» د دوهم چاپ په يوه برخه کې د هغه د موضوعاتو او حجم په پام کې نيولو سره څه څرګندوني وکړم، خو په دې سره مې د دې موضوع د څېړني حق ادا سوی نه باله.

يو وخت په انټرنيټ کې په فارسي ژبه ژباړلو سوو درو داسي کتابونو باندي پېښ سوم چې په دې هکله يې زما د غه هيلي تر سره کولې. نو هغه وو چې دغه کتابونه مې په دې نيت په خپل کمپيوټر کې خوندي کړل چې په يوه مناسب فرصت کې کار ځني واخلم. دغه کتابونه وه د «البيت السعيد وخلاف الزوجين» فارسي ژباړه «خانوادۀ

خوشبخت و اختلاف زوجین»، د «النمص بین الشریعة والطب» فارسي ژباړه «برداشتن موی ابرو و صورت از دیدگاه اسلام و پزشکي» او د «النصائح الثمینة لمخالفات المرأة في اللباس والزینة» ژباړه «راهنمایی‌های ارزشمند دربارۀ لباس و آرایش زنان». کله چي مي څه فرصت ترلاسه کړ، نو مي دغه کتابونه مطالعه کړل او راته څرګنده سوه چي که دغه درې کتابونه خپاره سي، نو په اړونده موضوع کي بېل کتاب لیکلو ته ضرورت نه لیدل کېږي. ځکه مي نو و پتېیل چي په دې هکله له ځانګړي کتاب لیکلو څخه تېر سم او همدغه کتابونه زما د مسلمانو وروڼو او خوندو د مطالعې او ګټې اخیستني لپاره په پښتو او دري دواړو ژبو خپاره سي. نو هغه وو چي لومړی مي د درو سرو کتابونو اصل په عربي ژبه په کمپیوټر او مکتبۀ شامله کي پیدا کړل، بیا مي درې سره فارسي کتابونه ورسره تطبیق کړل او زموږ په دودیزه دري ژبه مي واړول او تصحیح او ترتیب مي کړل. بیامي درې سره په پښتو ژبه وژباړل، چي دا دی له دغو کتابونو څخه یو یې ستاسي په لاسونو کي دی.

زه د لوی څښتنﷻ د احسان منندوی یم چي موږ او تاسي ته یې توفیق را کړ چي په دې موضوعاتو کي د دې سپېڅلي دین او شریعت احکام مطالعه کړو او د پلي کېدو لپاره یې هلي ځلي وکړو.

مسلمانو وروڼو او خوندو!

په دنیا کي تر بل هر کار دمخه زموږ د نېکمرغۍ او په آخرت کي زموږ د ژغورني له لاملونو څخه زموږ د دین په چارو کي ژور غور او تفکر، په تېره د واده کولو او د یوې مسلماني کورنۍ د رامنځ ته کولو، او د اسلامي شریعت سره زموږ د کړو وړو او ځان د برابرولو او سمبالولو په چارو، احکامو او مسایلو کي تامل او دقت دی.

دغه کتاب (نېکمرغه کورنۍ او د مېړه او مېرمنې اختلاف) په دې اړه د دې ارزښتناک اسلامي تګ لورې څرګندوونکی دی چې هیله ده د هغه په مطالعه سره د یوه ښه ژوندانه او نېکمرغي کورنۍ سرمشق اوسئ او موږ له خپلو دعاوو څخه هېر نه کړئ.

وصلی الله وسلم علی محمد وآله وصحبه اجمعین.

**ستاسې د دعا وو هیله‌من عبدالمالک همت،**
**د ده افغانانو نوآباد، کابل، د ۱۳۹۰ل.**
**دوږي د میاشتي اوولسمه**

# لومړی رساله:
# نیکمرغه

## سریزه

الحمد لله الذي هدانا للإسلام، وجعلنا من أهله وما كنا لِنهتَدِي لو لا أن هدانا الله، أحمده سبحانه وأشكره على نعمه، وأسأله المزيد من فضله وكرمه، وأشهد ألا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، أرسَلَه بالهُدى ودين الحقِّ بشيرًا ونذيرًا دعا إلى الحق وهدى إلى الخير، صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وصحبه، ومن اهتدى بهديه إلى يوم الدين أما بعد:

ټولي ثناوي او ستاینې هغه لوی څښتنﷻ لره دي چې موږ ته یې د اسلام پر لور لارښوونه وکړه او د دې مبارک دین خاوندان او پیروان یې کړو. رشتیا خبره داده چې که موږ ته لوی څښتنﷻ هدایت نه وای کړی موږ به سمه لار نه وای موندلې. د دغه لوی څښتنﷻ پر نعمتونو باندې حمدونه او شکرونه وایو او د فضل او کرم د لازیاتوب هیله یې کوو، او شاهدي وایو چې له دغه لوی څښتن څخه پرته بل پر حق معبود نسته، دی یو دی او هیڅ شریک نه لري او دغه راز شاهدي وایو چې حضرت محمدﷺ د ده بنده او پیغمبر دی، هغه یې د لارښوونې (اسلام) او حق دین سره بیرته ووونکی او زېری کوونکی را ولیږی چې حقې لارې ته بلنه او د نېکیو خواته لارښوونه وکړي.

د خدای درودونه او سلامتیاوي دي وي پر ده او د ده پر کورنۍ او ملګرو باندي او پر هغو کسانو چي د قیامت تر ورځي د ده د لاري لارویان دي، اما بعد:

ای مسلمانانو له خدایه بېره او تقوا غوره کړئ او د هغه احکامو ته په درنه سترګه وګورئ او د خپل دین او نورو ارزښتونو او امانتونو ساتني ته پام واړوئ. خپل مسؤولیتونه درک او تر سره کړئ، د خپلو ځانونو او خپلو کورنیو په هکله پرهېزګار او تقوادار اوسئ او په خپلو منځو کي روغه جوړه راولئ.

ډېر خلک خپله نېکمرغي او روحي او جسمي هوسایی او آرامۍ غواړي او د بدمرغۍ، او شقاوت او ستونزو له لاملونو او عواملو څخه، په تېره په کور او کورنۍ کي له کړکېچونو او جنجالونو څخه تښتي. خو موږ باید پوه سو چي دغه موارد هله تحقق مومي چي موږ پر لوی څښتن ټینګ ایمان ولرو، پر هغه توکل وکړو او خپلي چاري هغه ته وسپارو، او د دې تر څنګ د ژوندانه له وسایلو څخه سمه ګټه واخلو او پر دې وسایلو باندي د حاکمو قوانینو په اړه سم پوه سو.

## د کورنۍ د جوړېدو ارزښت او د مېړه او مېرمني په ژوند کي الفت او محبت

فرد او ټولني ته د دې نېکمرغۍ د تحقق له ډېرو مهمو اسبابو څخه د حق پر بنسټ باندي د کورنۍ جوړېده او رامنځ ته کېده دي. دا ځکه چي لوی څښتنﷻ په خپل حکمت سره کورنۍ یو له ارزښته ډک ځای جوړ کړی دی چي نارینه او ښځي ته یې برابر کړی او د هغو په واک کي یې ورکړی دی، څو په هغه کي استقرار ومومي او په

هوسايي او خوشالي پکښې واوسي. لوی څښتنﷻ پر خپلو بنده ګانو باندي د احسان په دود فرمايي:

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓاْ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾﴾ [الروم: ٢١].

«او دهغه (لوی څښتن) له نښانو څخه (بله) داده چي ستاسي لپاره يې همدا ستاسي له جنس څخه مېرمني پيدا کړې چي تاسي له هغوسره آرام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کي يې مينه او خواخوږي پيدا کړه . په باوري ډول په دې کي دهغو خلکو لپاره ډېري نښانې دي چي غور او فکر کوي».

هو، مېرمن د هوسايی لپاره پيدا سوې ده او آيت نه دي فرمايلي چي «لِّتَسْكُنُوا مَعَهَا»، بلکي فرمايلي يې دي چي ﴿لِّتَسْكُنُوٓاْ إِلَيْهَا﴾ څو د هوسايی او آرامۍ معنا په ډېره ښه توګه افاده کړي. او راحت او ډاډ يې په ډېره لوړه ممکنه معنا بيان کړې وي. پر دې بنسټ مېړه او مېرمني هر يو د اضطراب په حالت کي د خپلي مېرمني يا مېړه څخه آرامي او هوسايي تر لاسه کوي او د ستونزو او سختيو پر مهال خوښيږي.

د کورنۍ او واده د اړيکو بنسټ پر داسي يو د بل سره پر اوسېدو او ملګرتيا اېښوول سوی دی چي پر دوستي، انس او الفت ولاړ وي. پر داسي اړيکو چي ټينګي او اوږدې ريښې ولري. لوی څښتن دغه مفهوم داسي بيان کړی دی:

﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ﴾ [البقرة: ١٨٧].

«هغوی (ښځي) ستاسي لباس (جامه، پرده) او تاسي د هغو لباس ياست».

پر دې سربېره کورنۍ او د کورنۍ دغه اړیکي د اولادونو د روزني لپاره یو مناسب فرصت برابروي او د یوه توکم د روزني او پالني ضمانت کوي .... کوم چي د زړه سواندي مور او زیارکښ پلار تر سیوري لاندي رامنځ ته کېدای سي.

## د یوې مسلماني کورنۍ د جوړېدو بنسټونه

ګران لوستونکې! دلته داسي ډېر مسایل دي چي کورنۍ نظام پر هغو درېږي، د کور کهاله اړیکي ځني پیاوړي کېږي، او په هغو سره کورنۍ د بېلتون او جلاوالي له ورانوونکي توپان څخه خوندي کېږي، له دغو مسایلو څخه دي:

### ۱– پر لوی څښتن جل جلاله ایمان او له هغه څخه بېره (تقوا):

د دې مسایلو تر ټولو لومړی او ډېره مهمه، چي د کور کهاله بنسټ باله سي، د ایمان په پیاوړي مزي تمسک او منګولي ښخول، پر لوی څښتن او د آخرت پر ورځ باور او ایمان درلودل او له هغه پروردګاره بېره چي په سینو کي په ټولو پټو رازونو خبر دی او پر پرهېزګاری باندي استقامت او ټینګ درېدل، او د حق او حقیقت په لټونه کي له ظلم او بې پروایی څخه ګوښه اوسېدل دي.

﴿ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝٢ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ۚ﴾ [الطلاق:۲-۳].

«دغه خبري دي چي دهغو په هکله تاسي ته نصیحت کېږي، هر هغه چاته چي پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان ولري . څوك چي له الله څخه په بېرېدوکار وکړي الله به دهغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لار پیدا

کړي * او هغه ته به له داسي لارې څخه روزي ورکړي چې هغه لوري ته دهغه ګومان هم نه رسېږي . ځوك چي پر الله توكل وكړي دهغه لپاره هغه كافي دى».

د لوى څښتنﷻ د اطاعت او عبادت لپاره هلي ځلي او پر دې چاره حرص او ټينګار او د مېړه او مېرمنې يو بل ته سپارښتني د ايمان د پياوړتيا لامل كيږي، د حضرت پيغمبرﷺ دې وينا ته پام وكړئ:

«رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ. رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ».

«د لوى څښتن رحمت دي وي پر هغه سړي چي د شپې له خوبه راپاځيږي او لمونځ وكړي او خپله مېرمن را ويښه كړي څو هغه هم لمونځ وكړي او كه له پاځېدو څخه ډډه وكړي (يا لټي وكړي) اوبه پر مخ وروپاشي . او د لوى څښتن رحمت دي وي پر هغه ښځه چي د شپې پاځي او لمونځ وكړي او خپل خاوند راويښ كړي چي لمونځ وكړي او كه له را پاځېدو څخه ډډه وكړي (يا تنبلي وكړي) اوبه يې پر مخ وروپاشي»[1].

د مېړه او مېرمنې په منځ كي اړيكي دنيوي، مادي يا حيواني شهواني اړيكي نه دي، بلكي ډېري ارزښتناكي روحي اړيكي دي چي

١ - دغه حديث، صحيح حديث دى چي امام احمد په «المسند» 2/250، 436 كي او ابوداود (1308) او نسائى (205/3) او ابن ماجه (1336) روايت كړى دى او ابن خزيمه (1148) او حاكم (309/1) صحيح بللى او ذهبى ورسره موافق دى.

که سمي او درستي اړیکي وي، تر مړیني وروسته هغي نړۍ ته هم غځیږي:

﴿جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ﴾ [الرعد: ٢٣].

«یعني داسي باغونه چي دهغو همېشنی استوګنځی به وي، هغوی به په خپله هم په کي ننوځي او دهغو له پلرونو نیکونو اودهغو له مېرمنو او دهغو له اولادونو څخه چي هرڅوك صالحان وي هغوی به هم له هغو سره هلته ولاړ سي».

**۲– ښه او نېکمرغه ژوند:**

کوم څه چي د دې اړیکي د ساتلو لامل کیږي سم او غوره ژوند دی، او دا چاره هله تر سره کیږي چي مېړه او مېرمن هر یو په خپلو حقوقو او وجایبو پوه وي. او باید وپوهیږو چي په کورنۍ او د کورنۍ په غړو کي کمال او بشپړتیا راوستل یو ډېر ستونزمن کار دی. او د دې هیله چي باید په هغو یا په نورو وګړو کي ټول ښه صفتونه وي دا یوه ناشونې خبره ده.

## د کورني ژوندانه په خوندیتوب کي د مېړه ونډه او غوره ژوند

سالم عقل او سم اند او فکر حکم کوي چي انسان باید ځیني ستونزي او فشارونه د یوې طبیعي چاري په توګه ومني، او له ځینو ناخوښو چارو څخه سترګي پټي کړي. او نارینه ــ چي د کور مشر باله سي ــ باید تر خپلي مېرمني زیات زغمونکی وي. ځکه پوهیږي چي مېرمن یې په خلقت او اخلاقو کي ضعیفه ده او که د هري خبري په هکله محاسبه ورسره وسي، نو د هري خبري له ترسره کولو

به پاته او عاجزه سوې وي. او د هغې د سمولو لپاره زيات کوښښ به د هغې د ماتېدو لامل سي. چي همدا ماتېده به يې طلاق ورکول وي، زموږ ستر پيغمبرﷺ چي له هوا او هوس څخه څه نه وايي، فرمايي:

«اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ فَإِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ».

«ښځو ته په نېکۍ سره سپارښتنه وکړئ، ځکه چي هغوی له پښتۍ څخه پيدا سوي دي او د پښتۍ ډېره کږه برخه د هغې لوړه خوا ده. که وغواړې چي هغه سمه او برابره کړې ماتيږي او که يې پر خپل حال پرېږدې تل کږه پاته کيږي، ځکه نو هغو ته په نېکي سپارښتنه وکړئ»[1].

نو له دې څخه معلومه سوه چي کوږتيا د ښځي په خلقت کي نغښتې ده، نو بايد د هغې سره په صبر او زغم ګذاره وسي.

ځکه نو د کور مشر ته نه ښايي چي د مېرمني او اولادونو په اړه پر هره خبره په غوسه سي. بلکي بايد په هغو کي د نيمګړتياوو له ځينو اړخونو څخه سترګي پټې کړي او حتماً بايد د هغو ښه اړخونه ورپه زړه کړي، چي البته دا اړخونه يې هرو مرو ډېر هم دي،او پيغمبرﷺ په دې اړه فرمايلي دي:

«لاَ يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ». أَوْ قَالَ «غَيْرَهُ».

---

۱- دغه حديث امام بخاری (5186) او امام مسلم (1468 او 59 او 60) نقل کړی دی.

«هیڅ یوه مسلمان ته نه ښایي چې د یوه ناخوښه خلق او خوی په سبب چې له خپلې مېرمنې څخه یې ویني هغه وزوروي، ځکه چې هغه داسې نور اخلاق هم لري چې د ده د خوښې وړ دي»[۱].

هو، نارینه باید په دې مواردو کې د زغم ښتن واوسي او چې کوم کار ووینې چې نه یې خوښېږي باید پوه سي چې هیڅوک د خپل خیر ښېګڼې په لاملونو او د خپلې نېکۍ او صلاح په مواردو نه پوهېږي. لوی ښتن په دې اړه فرمایي:

﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِن كَرِهۡتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَيَجۡعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيۡرٗا كَثِيرٗا ١٩﴾ [النساء: ١٩].

«د هغو سره په ښه چلند (د هغو د حقوقو په ادا کولو سره په مینه او محبت) ژوند تېر کړئ. که ستاسي هغوی (په کوم سبب) نه خوښېږي نو (صبر وکړئ او سمدستي د بېلتون تصمیم مه نیسئ او چې کولای سئ نرمښت وکړئ، ځکه ممکن تاسي په خپل تشخیص کې اشتباه کړې وي) کېدای سي چې تاسي به یو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کې ډېرې ښېګڼې ایښې وي».

---

۱- دغه حدیث مسلم په خپل صحیح کې (1469) نقل کړی دی.

فایده: حافظ ابن حجر وايي: دغه حدیث په رفق او نرمي سره د ښځې سمېدو ته اشاره کوي، البته په داسي ډول چې په دې کار کې مبالغه ونه سي، ځکه چې پایله یې د ښځې ماتېده (طلاق) دی . او دا هم نه ښایي چې هغه پر خپل حال پرېښوول سي او پر خپله کوږتیا باندي ترپایه پاته سي. په دې هکله معیار دادی چې ښځه پر خپله کوږتیا باندي داسي پاته نه سي چې د دې د ضعیف طبیعت له پولې څخه د تېرې لامل سي او خپله لمن په ګناه ککړه کړي یا واجبات پرېږدي. بلکي پر خپلي کوږتیادي په مباحو چارو کي پرېښوول سي. وګورئ: فتح الباری 254/9مخ.

نو چي د کور مشر بد خویه، بد وضعیته، تنګ نظره، سر تمبه او احمق وي او د تلواري او ژر اقدام کولو ناروغۍ ړوند کړی وي، نو خوښي او رضا یې په مشکله ترلاسه کیږي او ژر درد ورځي او په غضب کیږي. کله چي په کور کي وي لوی او کوچني ځني په تنګ او په وهم کي وي او چي دباندي وي بدګومانه وي، نو په دغسي کور کي به راحت څنګه شتون ولري او هوسا او آرام ژوند او مینه او محبت به څنګه او له کومه وي؟

ځکه نو څرګنده سوه چي د ښه ژوند او د نېکمرغۍ لاملونه هله رامنځ ته کیږي چي نرمښت او خوش خویي او خوش خلقي وي او بې بنسټه بدګومانۍ هیڅ نه وي. له بده مرغه کله کله غیرت د ځینو لپاره د بد ګومانۍ لامل ګرځي او سړی د خپلي مېرمني د کړووړو په هکله په شک کي اچوي او اړباسي یې چي د خبرو تاویل یې په ناسمه او نامناسبه توګه وکړي او بالاخره د ژوندانه د خرپرتیا او بې ځایه اندېښنو لامل سي. لوی څښتن فرمایي:

﴿وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُواْ عَلَيْهِنَّۚ﴾ [اطلاق: ۶].

«او هغو ته (په استوګنه او خوراک کي زیان او) ضررمه رسوئ، چي (په ضرر رسولو سره سخت ګیري پر وکړئ او ژوند یې تریخ او) تنګ کړئ».

موږ باید څنګه واوسو؟ هغسي لکه حضرت رسول الله ﷺ چي فرمایلي دي:

«خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي».

«ستاسي ډېر ښه هغه دی چي خپلي کورنۍ ته ډېر ښه وي او زه خپلي کورنۍ ته تر تاسي ټولو ښه یم»[۱].

## دکورني ژوندانه په خوندیتوب کي دمېرمني ونډه او غوره ژوند

همدغسي مسلمانه ښځه هم باید پوه سي چي نېکمرغي، مینه او مهرباني هله رامنځ ته کېږي او بشپړېږي چي ښځه پت او دینداري ولري. ښځه باید خپل حد،حقوق او دندي وپېژني او له هغو څخه تېری او تجاوز ونه کړي. کوم څه چي مېړه ورڅخه غواړي باید تر سره يې کړي، ځکه چي مېړه د کورنۍ د چارو مدبر او سمبالوونکی دی، خپله مېرمن او کور او د کورنۍ غړي ساتي او نفقه ورته برابروي، ځکه نو د مېړه اطاعت او د هغه د شتو او ناموس او حیثیت ساتنه واجب ده. په دې صورت کي دی چي مېړه خپله دنده او کار په سمه توګه تر سره کوي او د هغه لپاره د هڅوني لامل مومي او خپلي مېرمني او کورکاله ته پام اړوي. په دې توګه نو مېرمني خپله دنده او دکور کار په بشپړه توګه تر سره کړی او خپل ځان او کور ته يې پام اړولی دی، او ډېره ښه مېرمن او مهربانه مور باله سي، د مېړه د کور ساتونکې ده او د هغه په هکله مسؤولیت لري، د مېړه په ښه کار اعتراف کوي او د هغه سترتوب او ښه ژوند له پامه نه باسي. زموږ ستر پیغمبرﷺ د مېړه په نسبت د مېرمني له نه پاملرني څخه خبرداری ورکړی او فرمایلي يې دي:

«أُرِيتُ النَّارَ فَإِذَا أَكْثَرُ أَهْلِهَا النِّسَاءُ يَكْفُرْنَ». قِيلَ: أَيَكْفُرْنَ بِاللَّهِ؟ قَالَ:

---

۱- دغه صحیح حدیث ترمذی (3892)، ابن ماجه (1977) او ابن حبان (1312) روایت کړی دی.

«يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ وَيَكْفُرْنَ الْإِحْسَانَ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ».

«ماته د دوږخ اور راوښوول سو،نو ما وليدل چي زيات دوږخيان ښځي دي کومي چي کفر يې کړی وو او حقيقت يې پټ کړی وو». چاورته وويل: آيا د لوی څښتن په هکله يې کفر کړی وو؟ رسول اللهﷺ و فرمايل: «نه، بلکي په خپله کورنۍ يې کفر کړی وو (يعني د خپلي کورنۍ په هکله يې ناشکري کړې وه)، او په نېکي او احسان يې کفر (ناشکري) کړې وه، ځکه که د دوی سره ډېر عمر ښه وکړې او يو مهال څه ناسم کار درڅخه وسي، نو درته وايي چي ما له تا څخه هيڅ وخت خير نه دی ليدلی»[1].

ځکه نو بايد د اشتباهاتو په هکله له ځانه زغم او تېرېده وښوول سي او له ښوېيدنو او تېروتنو سترګي پټې سي . مېرمن چي د مېړه سره وي بدي دي نه ورسره کوي او چي څني ليري وي خيانت دي نه ورسره کوي.

په دې توګه د دواړو خواوو خوښي او رضا ترلاسه کيږي او ژوند به يې د ميني او محبت او مهربانۍ او الفت سره ملګری وي. رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتْ الْجَنَّةَ».

«له کومي ښځي څخه چي مېړه راضي وي او مړه سي جنت ته به

---

١- دغه حديث امام بخاری (5197) نقل کړی دی.

نڼوزي»[1].

نو ای مسلمان امته! له لوی څښتنه بېره او تقوا غوره کړئ او پوه سئ چې سعادت او نېکمرغي په جوړجاړي او سوله او صفا کې وي. پر دې سر بېره د اولادونو د روزنې او ښې ښوونې لپاره غوره او مناسبه فضا په روغه او ښه او له مینې او محبته په ډکه کورنۍ کې چې د یو بل د تفاهم پر بنسټ جوړه سوې وي، د مور د مهربانۍ په لمن او د پلار د ښو کړنو په سیوري کې رامنځ ته کیږي. په داسې فضا کې چې له چیغو او نارو او کشمکش او جنجالونو څخه لیري وي او د یو بل له تېري او تجاوز څخه په امن کې وي. دغسې یوې کورنۍ ته نه طلاق او بېلتون لار مومي او نه شخړې او بدۍ.

﴿وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ۝٧٤﴾ [الفرقان: ۷۴].

«ای زموږ پروردګاره! موږ ته (په خپل فضل سره) له خپلو مېرمنو او اولادونو څخه دسترګو یخني (د سترګو رڼا، یعني صالح اولاد) راکړه، او موږ (په خپله مهرباني سره) دپرهېزګارانو (لارښوونکي، مشران او) امامان کړه».

## پاییزه

په پای کې ای زما مسلمانه وروره ! او ای زما مسلمانې خورې !

---

۱- دغه حدیث ترمذی (1161) نقل کړی دی او حسن حدیث یې بللی دی، همدا راز دغه حدیث ابن ماجه (1854) او حاکم (173/4) هم نقل کړی دی او حاکم صحیح بللی دی. (خو نامتو محدث شیخ محمد ناصر الباني هغه ضعیف، بلکې منکر ګڼلی دی . پښتو ژباړن).

په کور کي سم سمکی او اصلاح او سمون د ګردي ټولني د اصلاح او امنیت لار ده . دا ډېره لیري او ناشونې خبره ده چي داسي یوه ټولنه اصلاح سي چي د کورنیو اړیکو مزي یې سست وي. نه وینئ چي الله ﷻ په دې نعمت سره پر خپلو بنده ګانو احسان ایښی دی، کوم چي د کورنیو پیوستون او مینه او لورېینه او پېرزوینه ده، هغه داسي فرمايي:

﴿وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ ٱللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٢﴾﴾ [النحل:٧٢].

«او هغه الله دی چي ستاسي لپاره یې ستاسي له خپل جنس څخه مېرمني وګرځولې (چي د هغو سره هوسا سئ) او له دغو مېرمنو څخه یې تاسي ته زامن او لمسي درکړي دي او ښه ښه خوراکي مواد یې در په برخه کړي دي . نو آیا دغه خلك (کافران د دې هرڅه له لیدلو او په پوهېدلو سره بیاهم) باطل مني او د الله له پېرزویني څخه انکار کوي؟».

مېړه او مېرمن او د هغو په منځ کي د اړیکي او تړون مزی او مور او پلار او د دوی په غېږ کي د زامنو او لوڼو روزنه د اسلامي امت اوس او راتلونکې جوړوي.

په همدې سبب که چیري شیطان بریالی سي چي یوه کورنۍ سره وپاشي، نو به یې یوازي یوه کورنۍ نه وي ورانه کړې،او د یوه کوچني شر او فتنې لامل سوی به نه وي، بلکي ټول امت به یې په یو ډول له عذابه ډکه زوروونه او تل تر تله فتنه اخته کړی وي، چي نني واقعیتونه د دې ربړي ډېر ښه شاهدان دي.

نو د لوی څښتن ﷻ رحمت دي پر هغه نارینه وي چي ښه خویونه

او سپېڅلی طبیعت او عادتونه ولري، آساني راوستونکی، نرم خویه، او مهربان وي، د چارو په ترسره کولو کي د ملګري غونـدي وي . د خپل اهل او عیال پـه هکلـه زړه سـواندی او پـه کـار کـي هـوډي او د کلکي ارادې خاوند وي، په افراط او بدو خویونو نه اختـه کیـږي او د خپلو دندو او مسؤولیتونو په ښـه ترسـره کولـوکي سسـتي او ټنبلـي نـه کوي.

او د خدایﷻ رحمت دي پـر هغـه ښـځه وي چـي پـه قصـد سـره اشتباه نه کوي، ډېره نه په قهر کیـږي، نېکـه، پرهېزګـاره او د مېـړه پـه غیاب کي د هغه د مال او پت او ناموس ساتونکې وي.

ای مړونو او مېرمنو! پرهیزګار اوسئ. او ای مسـلمانانو! لـه خدایـه وبېرېږئ او تقوا غوره کړئ، ځکه هر څوک چي تقوا غوره کړي لـوی څښتن به یې کارونه ور ساده او آسانه کړي.

د لوی څښتنﷻ درودونه او سلامونه دي وي د ده په مخلوقاتو کي تر ټولو پر غوره شخصیت، زموږ پر پیغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ او د ده پر آل او اولاد او پاکو مېرمنو او نېکبختو اصحابو دي هم درودونه او سلامونه وي.او همدا راز دي د قیامت تر ورځي د خدای درودونه او سلامونه پر هغو کسانو وي چي په نېکي سره له هغو څخه متابعت کوي.

سبحانك اللهم وبحمدك، وأشهد أن لا إله إلاَّ أنت أستغفرك وأتوب إليك.

# دوهمه رساله:
# د مېړه او مېرمنې اختلاف

## سريزه

الحمد لله الذي خلق فسوَّى وقَدَّر فهدى، أحمده سبحانه وهو أهل الحمد في الآخرة والأولى، وأشهد أن لا إله إلا اللهّ وحده لا شريك له، وأشهد أن سيدنا ونبينا محمدًا عبده ورسوله النبيُّ المصطفى والعبد المجتبى، صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وصحبه، ومن دعا بدعوته ومن سار على نهجه واقتفى.

ټولي ستايني او ثناوي هغه لوی ځښتن لره دي چي ټول مخلوقات يې پيدا کړل او بيايې د هغو خلقت ته په انډول سره برابري اوسمښت ورکړ او هر څه يې اندازه کړل او د هر يوه يې لکه څنګه چي ښايي هغسي يوه کار ته لارښوونه وکړه . د هغه صفت او ستاينه کوم او هغه په رشتيا هم په پيل او پای کي د ستايني وړ او اهل دی، او شاهدي ورکوم چي له دغه يوه خدايه پرته بل خدای نسته او هيڅ شريک نه لري او شاهدي ورکوم چي زموږ ستر پيغمبر حضرت محمد د هغه بنده او را ليږل سوی او غوره سوی رسول دی. درودونه او سلامتيا او برکتونه دي وي پر ده او د ده پر کورنۍ او ملګرو او پر هغو کسانو چي د ده بلنه ومني او د ده د لاري لارويان سي، اما بعد:

پوه سه چې د لوی څښتن له سترو او غورو نعمتونو او نخښو نښانو څخه يوه هم داده چې کور کهول يې د هوسايي او سوکالی ځای او منځی ګرځولی دی. په هغه کې نفسونه ميني، محبت، مهربانۍ، پاکۍ او ارزښتناک ژوندانه او له ګنهونو څخه خونديتوب او ګوښه کېدو ته رسيږي. د هغه په توده غېږ کې ماشوم روزنه مومي، د ژوند پېښو ته د اوارۍ لاري مونده سي، د خپلوۍ او دوستۍ مزي پکښې ټينګيږي او د يو بل سره د مرستې، لاسنيوي او پېرزوينې اړيکې پکښې پياوړې کيږي، او زړونه او اروحونه يو له بله پکښې په پياوړو اړيکو سره تړل کيږي او نژدې کيږي:

﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ﴾ [البقرة: ۱۸۷].

«هغوی (ښځې) ستاسي لباس (جامه، پرده) او تاسي د هغو لباس ياست».

په همدغسې نه شلېدونکو اړيکو او ودانو کورنيو کې ښه ښه خويونه او خصلتونه وده کوي او داسي وګړي پکښې روزل کيږي چې د ډېرو سترو امانتونو د ورسپارلو وړ وي او داسي ښځې پکښې تربيه کيږي چې په ډېرو پياوړو اصولو باندې سمبالې وي.

## د مېړه او مېرمنې د اختلاف لاملونه

لوی څښتنﷻ انسانان او خپل نور مخلوقات لکه څنګه چې دي هماغسې پيدا کړي دي چې البته همدغه ستر ذاتﷻ په خپل کار ډېر ښه پوهيږي او په خپلو مخلوقاتو ډېر ښه عالم دی. پر دې بنسټ لکه چې د انسانانو د ژوندانه واقعيت او د هغو طبيعت ښيي ځيني داسي حالات انسانانو ته پېښيږي چې په هکله يې توصيې او سپارښتونه

بې اغېزي کيږي او مينه او محبت نه سي کولای لار ورته وومومي. تر دې چي د زوجيت او کورني ګډ ژوند اړيکه د ستونزو او کړاوونو لامل ګرځي او هغه څه چي د ازدواج موخه باله سي نه ترسره کيږي او د کورنۍ او اولادونو د خير او نېکمرغۍ لاملونه نه رامنځ ته کيږي. د نه توافق او شخړو دغه حالات کېدای سي کورني يا بهرني لاملونه ولري.

دغه اختلافات کله کله د مېړه او مېرمني د اولياوو او خپلوانو له ناسمي لاسوهي يا د دوی په کوچنيو او لويو چارو کي د هغو د کار درلودني له امله رامنځ ته کيږي. او کله هم کار تر دې ځايه رسيږي چي د مېړه او مېرمني خپلوان غواړي د دوی دواړو مينه او مهرباني په دې موخه چي پر دوی باندي واک او تسلط ولري له منځه يو سي، چي په پايله کي يې کار تر محکمو رسيږي او بالاخره يې پټ رازونه لڅ سي او خبره رسوايي ته ووزي او د خلکو خولو ته ورسيږي. چي دا هرڅه د ډېرو کوچنيو خبرو او بې ارزښته شيانو د په پام کي نيولو له امله وي چي زياتره خبره د ناوړه دخالت او له پوهي او حکمت څخه د کار نه اخيستني او ژر اقدام او تلواري او د آوازو او بې مورده خبرو د منلو په سبب تر دې ځايه رسيږي.

د دې ټولو ستونزو او ناخوالو سرچينه په دين کي لږ معلومات، د شريعت په احکمانو نه خبرتيا، د ناوړو او منفي دودونو زياتوب او د غلطو اندونو او افکارو پيروي وي.

د مثال په توګه ځيني مړونه ګومان کوي چي په طلاق سره ګواښنه او يا په هغه خوله پرانيستنه د کورنيو اختلافاتو د اوارۍ او د مېړه او مېرمني ترمنځ د ستونزو د ليري کولو يوازنۍ سمه لار ده. په دې توګه

د خپلي مېرمني سره د خبرو لپار د طلاق د الفاظو له پورته کښته کولو پرته په بل څه نه پوهیږي . په تلو راتلو کي او په مکوه او وکړه کي، بلکي په ټولو چارو کي له دغو الفاظو پرته يې په بل څه سر نه خلاصيږي. دغسي کسان له دې څخه غافله او ناخبره وي چي په دغسي خبرو سره د لوی ښتن په احکامو او آياتو ملنډي وهي، په دې توګه ګناه ترسره کوي، او خپل کور ورانوي او کورنۍ ته تاوان رسوي.

نو ای مسلمانانو ! آيا دا په دين کي معلومات او فقه او فهم دی؟

له هغه سنت طلاق څخه چي شريعت روا کړی دی موخه او مقصد د ازدواج د مزي شلېده نه دي، بلکي ويل کيږي چي د دې له تشريع او روايښت څخه موخه د بېلتون او جدايي څنډېده دي او د رامنځ ته سوي مشکل د اوارۍ او علاج او د دې ربړي په هکله د تدبر او فکر کولو لپاره يو پړاو دی.

قال الله تعالی:

﴿لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١ فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمۡسِكُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ فَارِقُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ﴾ [الطلاق: ١-٢].

«ښځي (تر طلاق وروسته دعدې په وخت کي) د هغو له کورونو څخه مه باسئ او ښځي دي هم (د عدې ترپای ته رسېدو پوري د مړونو له کورونو څخه) نه وزي، مګر داچي هغوی کومه څرګنده بې حيايي ترسره کړي . او دا دالله ټاکلي حدود (قوانين او مقررات) دي، او څوك چي د الله له حدودو څخه تېری وکړي هغه به پر خپل ځان خپله ظلم وکړي ته

نه پوهېږې، ښايي له هغې وروسته الله (د توافق) څه لار پيدا کړي .* بيا کله چي دهغو د (عدې) موده پای ته ورسېږي، نو يا هغوی په ښه توګه (په خپله نکاح کي) وساتئ، يا په ښه توګه له هغو څخه جلا سئ».

دا د طلاق په هکله د شريعت حکم دی، خو خبره پر دې هم نه رالنډيږي. بلکي په شريعت کي سنت طلاق د ستونزي د اوارۍ لپاره وروستۍ وسيله ده، ليکن تر هغه دمخه بايد د مخنيوي ډېر وسايل په کار ولوېږي.

## د مېړه او مېرمني د اختلاف د اوارۍ لاري

مسلمان وروره ! او مسلماني خوري!

کله چي د اختلاف نخښي او د نه سره جوړېدو او نافرمانۍ علامې ځرګندي سوې، نو طلاق يا په طلاق سره ګواښنه د حل لار نه بلل کيږي. بلکي ډېر مهم کار چي د مشکل د حل لپاره لازم دی هغه صبر، زغم او تحمل دی او د دې ترڅنګ په احساساتو او نظرونو کي او په خلق او خوی کي د توپيرونو پېژندنه ده. او ور سره ورسره له ډېرو خبرو او مسايلو څخه سترګي پټول هم اړين باله سي. دا ځکه چي خير او مصلحت تل په هغه څه کي نه وي چي زموږ خوښيږي او هيله يې کوو، بلکي ډېر کېداى سي چي خير او مصلحت په هغو کي وي چي زموږ نه خوښيږي او نه يې غواړو.

قال الله تعالى:

﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِن كَرِهۡتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَيَجۡعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيۡرٗا كَثِيرٗا ١٩﴾ [النساء: ١٩].

«د هغو سره په ښه چلند (د هغو د حقوقو په ادا کولو سره په مینه او محبت) ژوند تېر کړئ. که ستاسي هغوی (په کوم سبب) نه خوښېږي نو (صبر وکړئ او سمدستي د بېلتون تصمیم مه نیسئ او چي کولای سئ نرمښت وکړئ، ځکه ممکن تاسي په خپل تشخیص کي اشتباه کړې وي) کېدای سي چي تاسي به یو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کي ډېري ښېګڼي ایښي وي».

مګر کله چي د کورني ژوند په تېرولو کي څه نیمګړتیا رامنځ ته سي او ګوزاره او اړیکي بې خونده سي او له ښځي څخه نافرماني او د هغې له خپل حد او پولو څخه تېری او د خپلو دندو په ترسره کولو کي بې میلي ولیدل سي، او د کرکي او نفرت نخښې ځني څرګندي سي او د مېړه د حقونو په اداینه کي تقصیر او کوتاهي ځني وسي او د هغه ښېګڼو او فضایلو ته پام نه کوي، نو بیا هم په اسلام کي دحل لارطلاق نه دی بلل سوی، نه په څرګنده او نه په اشاره سره. لوی څښتن په قرآن کریم کي فرمایي:

﴿وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ﴾ [النساء: ۳۴].

«او تاسي چي دکومو ښځو له سرغړوني څخه اندېښمن یاست (لومړی) هغوی (په ښه نصیحت سره) پوه کړئ، او (که په دې ونه سوه) دخوب ځایونه ورڅخه جلا کړئ (او مه ورنږدې کېږئ)، او (که په دې هم ونه سوه) ویې وهئ (البته داسي یې ووهئ چي ضرر ور ونه رسوئ)، که هغوی ستاسي خبري ومني، نو پر هغو باندي له ظلم کولو څخه ډډه وکړئ».

د دې چارو علاج او د حل لار نصیحت، د ښځي د تېروتنو او اشتباهاتو په سمه توګه او په نرمه لهجه توضیح کول او بیانول، د

دواړو لورو د حقونو یادول او د لوی څښتنﷻ له قهر او غضب څخه بېرول او ترهیب او ترغیب دی، البته په سړه سینه، او په پوهه او نرمښت او په زغم، وقار او درنښت سره . او ور سره ورسره د دې د نافرمانۍ او له خپل حد څخه د دې د تېري په مقابل کي دخوب د ځای ورڅخه جلا کول او نه ورنژدې کېدل هم د دې د تنبیه او په خبره د پوهېدو یوه وسیله ده. خو پام مو وي چي لوی څښتنﷻ فرمایلي دي چي ﴿فِي ٱلۡمَضَاجِعِ﴾ یعني په بستر کي له هغو څخه لیري سئ او نه یې دي فرمایلي چي «عَنِ الْمُضَاجِعِ» یعني د دوی له همبستر کېدو څخه ډډه وکړئ. هو، دا په بستر کي لیري کېده دي، نه د کور پرېښوول او د کورنۍ او اولادونو په مخ کي او نه د پردو په مخ کي لیري کېده.

لنډه داچي له دې کار څخه موخه د راولاړي سوي ستونزي حل دی، نه په دې خبرو د خلکو خبرېده یا د مقابل لوري زورېده او سپکېده او نه د پټو رازونو لڅېده او بې پردې کېده. دا چاري د نافرمانۍ په مقابل کي د سمون او پیوستون لپاره دي نه د ورانی او بېلتون لپاره.

کله کله هم د ستونزي حل یو څه قهر آمېزۍ او تندۍ ته اړتیا پیدا کوي، ځکه ځیني کسان داسي وي چي د اصلاح لپاره یې ښه وضع او نرمښت او په لطف او مهربانۍ سره نصیحت کفایت نه کوي، دا داسي کسان وي چي د زیات نرمښت او حلم او مهربانۍ په لیدو سره سرکښي او طغیان کوي، نو چي څه سره سترګه او خشونت وویني بیا کرار سي.

هو، کله ناکله یو څه سختي وضعي ته پناه وروړل ډېر ښه درمل

جوت سي. نو ولي بايد ګټه ځني وانه خيستل سي؟ په داسي حال کي چي مقابل لوری د خپلي دندي تر سره کېدو ته پام نه اړوي او د خپل ناوړه خوی او طبيعت له مخي له خپلي پولي تېری کوي؟

دا هر پوه سړي ته معلومه ده چي که څه سخت طبيعتي او قساوت د کورني نظام د سمبنت لامل کيږي او کور ته الفت او محبت ورګرځوي، نو دا خو تر طلاق او جلاکېدو ډېر ښه کار دی. دا خو ډېره مثبته او معنوي چاره ده، چي يوازي او يوازي د تاديب لپاره ده، نه د غچ اخيستلو لپاره، او له دې چاري څخه ګټه اخيستل يوازي د نافرمانۍ او تشويش د له منځه تلو لپاره ده.

البته که مېرمن د مېړه د ظلم او مخ اړوني څخه وبېرېږي، نو قرآن کريم يې د چارې لپاره داسي لارښوونه کوي:

﴿وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحًاۚ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞۗ﴾ [النساء: ۱۲۸].

«او که کومه ښځه د خپل مېړه له لوري د ناوړه چلند يا بې زارۍ (مخ اړولو بېره او) اندېښنه ولري (پوه سي چي مېړه يې تر دې ځان لوړ ګڼي او د کورنيو چارو له ترسره کولو څخه ډډه کوي يا مينه نه ورسره ښيي)، نو دغو مېړه او مېرمني ته په دې کي څه پروا (او ګناه) نسته چي په خپلو منځو کي په اتفاق سره يو ډول سوله وکړي اوسوله (تل تر جنګ او جلاوالي) ډېره ښه (او غوره) ده».

په دې توګه د ستونزي د اوارۍ لار سوله او جوړجاړی دی، نه طلاق او بېلېده. چي دا البته د نکاح د خوندي ساتلو لپاره له ځينو مالي يا شخصي حقوقو په تېرېدو سره کيږي.

﴿وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞ﴾.

«سوله تر جلاکېدو، ظلم، نافرمانۍ او طلاق غوره ده».

زما مسلمانه وروره! او زما مسلماني خور!

څه چي دمخه وویل سول د لوی څښتن د دین د فهم او د هغه پر احکامو باندي د عمل د یوه اړخ په هکله یوه ځغلنده او لنډه یادونه وه، خو مسلمانان له دې حقایقو څخه څوني لیري دي؟

د مېړه او مېرمني د شخړي او اختلاف د اوارۍ لپاره منځګړو ته د پرېکړي د واک ورکولو خبره ولي له منځه تللې ده؟

منځګړي او اصلاح کوونکي ولي د حل له دغي لاري څخه مخ اړوي؟ آیا دا د اصلاح او سمون سره مینه ده،که د کور ورانولو او اولادونو د تیت او پرک کولو سره علاقه ده؟

په دې کي خو له ظلم او ناپوهۍ او د الله ﷻ له ډار څخه د لیري والي او د هغه د احکامو له پرېښوولو او په الهي حدودو له لوبوکولو پرته بل څه نه تر سترګو کیږي.

ابن ماجه، ابن حبان او نورو محدثینو په خپلو کتابونو کي له رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دی چي هغه وفرمایل:

«مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَلْعَبُونَ بِحُدُودِ اللَّهِ يَقُولُ أَحَدُهُمْ قَدْ طَلَّقْتُكِ قَدْ رَاجَعْتُكِ قَدْ طَلَّقْتُكِ».

«د هغه قوم حال به څه وي چي د لوی څښتن په حدودو (احکامو او قوانینو) لوبي کوي، چي یو یې پرله پسې خپلي مېرمني ته وایي: ته پر ما طلاقه یې، ... تاته مي بېرته رجوع وکړه،... او ته پرماطلاقه

يي؟»[1].

## د مېړه او مېرمني د اختلاف د اوارۍ وروستۍ لار

کله چي د اختلاف د اوارۍ ټولي لاري او وسايل بې ګټې سي او د ماتي سره مخامخ سي او په هغه کي پاته کېدل ستونزمن او ناشوني وګرځي چي د هغو ارزښتناکو موخو او حکمتونو د پلي کېدو لامل نه سي کوم چي لوی څښتن په کورني ژوند کي نغښتي دي، نو اسلامي شريعت په خپل قانون کي د آساني او د خپلو احکامو د جامعيت پر بنسټ له دې ستونزي څخه د وتو لار رامنځ ته کړې ده. خو له بده مرغه زيات مسلمانان له هغه طلاق څخه چي غوره او سنت باله سي او شريعت روا کړی دی ناخبره دي او د طلاق داسي الفاظ پر خوله راوړي چي د لوی څښتن حدود او شريعت نه پکښي مراعت کېږي.

د اسلامي شريعت له مخي ښځي ته په حيض کي طلاق ورکول حرام دی. دغه راز درې طلاقه ورکول حرام دی. د ښځي د پاکۍ په حال کي چي ښځه د دووحيضونو په منځ کي اوسي، ترنزدېکت وروسته طلاق ورکول حرام دی. دا ټول هغه طلاقونه دي چي ناروا او حرام بلل سوي او خاوند يې ګنهکار دی، خو د اسلامي عالمانو د صحيحو اقوالو له مخي طلاق واقع کېږي.

البته هغه سنت طلاق چي بايد مسلمانان يې په هکله پوه سي دادی چي په هغه پاکي کي چي نزدېکت نه وي پکښي واقع سوی او يا د ښځي د اميدوارۍ په وخت کي يو طلاق ورکړي.

---

۱- سنن ابن ماجه (2017) او صحيح ابن حبان (4265). (علامه الباني دغه حديث ضعيف بللی دی، پښتو ژباړن).

په دغسي طريقه سره مېرمني تـه طـلاق ورکـول د حـل لار ده. پـه دې توګه د مېړه او مېرمني بېلوالى دونه وخت وي چي په هغه کـي پـه آرامو اعصابو فکر وسـي او بېرتـه مراجعـه وسـي. پـه دې ډول طـلاق ورکـوونکى اړ کيـږي چـي تـر هغـه مهالـه انتظـار وباسـي چـي ښـځه پاکيږي. څوک څه پوهيږي چي څه پېښيږي؟ د انسانانو دننى حالت بدلون مومي، زړونه ويښيږي او لوى څښـتنﷻ چـي د هـر کـار اراده وکړي ترسره کوي يې. د عـدې مـوده (د حايضـې ښـځي عـده، يـا د مياشتني حساب عده، يا د اميدواري ښځي د حمل د وضعي عده) د حساب او کتاب او د بېرته سره ورګرځېدو لپـاره يـو فرصـت دى. پـه دې موده کي کېداى سي د ميني او محبت هغه مزى چـي پـرې سـوى دى او د زوجيت هغه اړيکه چي شلېدلې ده بېرته اصلاح سي.

البته هغه څه چي مسلمانان نه په پوهيږي دادى چي: کومي ښـځي تـه چـي رجعـي طـلاق ورکـول سـوى وي، بايـد د مېـړه پـه کـور کـي واوسي، نه دا له کوره د وتو اجازه لري او نه بل څوک له کوره د هغې د ايستلو اجازه لري، بلکي لوى څښتن دغه کور د طلاقي سوي ښځي کور بللى دى، لکه چي فرمايي:

﴿لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ﴾.

«هغوى (يعني ښځي تر طلاق وروسته دعدې په وخت کي) د هغو له کورونو څخه مه باسئ».

دا اسلوب د دې لپاره غوره سوى دى چي د مېړه په کور کي د هغې د اوسېدو پر حق باندي ټينګار سوى وي. ځکه د مېړه په کور کي د هغې اوسېدل د بېرته ورګرځېدو لار ده او دې هيلي ته د رسېدو لپاره د لاري پرانيسته دي چي ګوندي د دوى د دوستۍ عواطف را

وپاريږي او ګډ ژوند يې ورپه ياد سي. مېرمن که څه هم د هغه طلاق په حکم چي ورکړه سوی دی ليري ښکاري، خو بيا هم نژدې او د مېړه د سترګو په وړاندي اوسي.

نو آيا دا حکم د اختلاف د توپان له آرامولو، او د ضميرونو د راپارولو، او اصلي حالت ته د بېرته ورګرځولو، او د کورکهول، بچيانو، او کورنيو چارو د څېړلو لپاره په آرامو مغزو له فکر کولو پرته بله موخه لري ؟

﴿لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ۝١﴾ [الطلاق: ١].

«ته نه پوهېږې، ښايي له دې وروسته الله نوی حالت رامنځ ته کړي، (د توافق) څه لار پيدا کړي».

نو ای مسلمانانو! له لوی څښتن څخه وبېرېږي او تقوا او پرهېزګاري غوره کړئ، د خپل کورکهول او خپل اهل او عيال ساتنه وکړئ، د خپل دين په احکامو ځانونه پوه کړئ، د خدای حدود پلي کړئ ، تېری مه ځني کوئ او په خپلو منځو کي خپلي اړيکي سمي او اصلاح کړئ.

ای لويه څښتنه! موږ ته په دين او شريعت کي فهم او پوهه را په برخه کړې، ستا د ښکلي کتاب قرآن کريم له لارښوونو څخه ګټه را په نصيب کړې او ستا د پيغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ پر لار باندي د تلو وس او توفيق راکړې، آمين.

**پای**

# د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالك «همت»**

- د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال يې ۱۳۳۲ لمريز.
- په اسلامي او ټولنيزو علومو کي يې خصوصي زده کړې کړي دي.
- د ډاکټر نجيب الله د واکمن کېدو په لومړيو کي له هيواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بيا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو. لومړی په کندهار کي اوسېدی او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په ليکلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليکلي دي:

۱- د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ل.کال خپره سوې ده.

۲- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ل.کال خپره سوې ده. په ۱۳۸۹ا.کال دوهم ځل خپره سوه.

۳- زمـوږ د قبلې تـاريخ (دمکې مکرمې تـاريخ) پـه۱۳۸۵.کـال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دريم ځل خپور سو.

٤- زموږ د نبي مېنـه (د مـدينې منورې تـاريخ) پـه ۱۳۸۵ل.کـال لومړی ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

٥- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸٥ل.کال خپور سو.
٦- د مقالې ليکلو اصول په ۱۳۸٥ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۸ کال دوهم ځل خپور سو.
۷- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ل.کال خپور سو.په ۱۳۹۰ل.کال دوهم ځل خپور سو.
۸- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه) . په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
۹- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ ل. کال خپور سو.
۱۰- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ل.کال خپره سوه.
۱۱- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
۱۲- د کلمې شريفي حقيقت (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
۱۳- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
۱٤- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
۱٥- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ. (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه. په ۱۳۹۰ کال دوهم ځل خپره سوه.
۱٦- د حق او باطل د جګړې په هکله (۲٥) مقالې (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه.
۱۷- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ۱۳۸۹ل. کال خپره سوه.

۱۸- راځئ توبه وکاږو، په ۱۳۹۰ل.کال خپور سو.
۱۹- زه توبه کاږم، خو...؟ (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپره سوه.
۲۰- د اسلام د بري زېري (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپره سوه.
۲۱- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
۲۲- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
۲۳- د ښځو د کالو او سینګار په هکله ارزښتناکي لار ښووني (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپر ه سوه.
۲٤- د وروځو او مخ د وریښتانو کښل د اسلام او طبابت له نظره، (ژباړه) په ۱۳۹۰ل.کال خپر ه سوه.
۲۵- نېکمرغه کورنۍ او د مېړه او مېرمني اختلاف دغه ژباړه ده چي اوس ستاسي په لاس کي ده.

پر دې سربېره یې د هیواد په دننه او دباندي کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

د لیکوال د ګرځنده تلیفون لمبر:0093 700300167
د لیکوال د برېښنالیك یا ایمېل آدرس:
**himmat_ afg@yahoo.com**